# د الکول، مخدره توکو تر اغیز لاندې د موټر چلوونکو د بیارغونې پروګرام (Impaired Driver Rehabilitation Program)
## په مکرر ډول پوښتل شوې پوښتنې او ځوابونه

**مۍ 2023**

دا لاربښود د ورمونټ د الکول، مخدره توکو تر اغیز لاندې د موټر چلوونکو د بیارغونې پروګرام (Vermont Impaired Driver Rehabilitation Program) (IDRP) په اړه د معلوماتو بیاکتنه کوي، پشمول د په مکرر ډول پوښتل شویو پوښتنو، د IDRP پروسې، او د برنامې اړتیاوو. که تاسو په ورمونټ (Vermont) کې د الکول یا مخدره توکو تر اغیز لاندې موټر چلولو محکوم یاست، نو تاسو باید د خپل غیر محدود موټر چلولو جواز بیرته ترلاسه کولو لپاره IDRP بشپړ کړئ.

## منځپانګې


**ډېر ځله پوښتل شوې پوښتنې ....... 2**

زه څنګه کولی شم زما د وتلو مرکه مهالویش کړم؟ ....... 2

آیا زه کولی شم د IDRP زده کړې بشپړولو دمخه درملنه پیل کړم؟ ....... 2

آیا زه کولی شم مخکې له دې چې زه محاکمې ته لاړ شم IDRP پیل کړم؟ ....... 2

آیا زه اړتیا لرم چې IDRP بشپړ کړم که زما تورونه لغوه شي؟ ....... 2

آیا زما د الکول یا د نورو مخدره توکو د مشورې له لارې درملنه د IDRP زده کړې ځای نیسي؟ ....... 2

آیا زما د جرم له امله د ځورېدلي څخه د اغیز اخیستلو غونډه د IDRP ځای نیسي؟ ....... 2

آیا زما د خوندي موټر چلولو پروګرام (Safe Driving Program) د IDRP بدیل کېدای شي؟ ....... 2

آیا مخکې له دې چې زه د موټر چلوونکو د الکول ښنلو وروسته د موټر پیل کولو مخه نیسونکې آله (ignition interlock device) ترلاسه کړای شم، IDRP ته اړتیا ده؟ ....... 2

آیا د IDRP لپاره د مخدره توکو معلومولو لپاره د تشو متیازو د سکرینینګ او د دغو توکو نه د ځان ساتلو اړتیا شته؟ ....... 2

ما لا دمخه خپل لایسنس ترلاسه کړی، ولې زه اوس IDRP ته اړتیا لرم؟ ....... 2

**د IDRP پروسه ....... 3**

د IDRP لګښت ....... 3

د IDRP لپاره نوم لیکنه ....... 3

د ټول عمر لپاره ځنډول ....... 4

مجازي پروګرامونه ....... 4

اړینې فورمې ....... 4

ستاسو لپاره چې تاسو بشپړې کړئ ....... 4

ستاسو د درملنې ډاکتر لپاره چې بشپړې یې کړي ....... 4

د ایالت څخه بهر (غیر Vermont) اوسیدونکي ....... 4

**مونږ سره اړیکه ونیسئ ....... 5**



د ټیلیفون شمېره: 802-651-1574 • فاکس: 866-272-7989 •
برېښنلیک: AHS.VDHIDRP@vermont.gov
د نورو معلوماتو لپاره، HealthVermont.gov/IDRP وګورئ


VERMONT DEPARTMENT OF HEALTH

Pashto

## ډېر ځله پوښتل شوې پوښتنې

### زه څنګه کولی شم خپل د وتلو د مرکې مهالویش تنظیم کړم؟

- وروسته له هغه چې تاسو ټولې د زده کړې او درملنې اړتیاوې بشپړې کړئ د خپل IDRP کلینیکي ارزوونکي سره اړیکه ونیسئ ترڅو د وتلو د مرکې مهالویش تنظیم کړئ.

### آیا زه کولی شم د IDRP زده کړې بشپړولو څخه مخکی درملنه پیل کړم؟

- هو! تاسو کولی شئ د جرم پېښېدو څخه وروسته هر وخت درملنه پیل کړئ.

### آیا زه کولی شم مخکې له دې چې محاکمې ته لاړ شم IDRP پیل کړم؟

- هو! وروسته له هغه چې جرم پیښ شی تاسو کولی شئ په هر وخت کې برنامه پیل کړئ.

### که زما تورونه لغوه شی آیا زه اړتیا لرم چې IDRP بشپړ کړم؟

- که ستاسو تورونه کم شوي یا معاف شوي وي، تاسو ممکن بیاهم د IDRP بشپړولو ته اړتیا ولرئ. که تاسو د خپلو تورونو په اړه پوښتنې لرئ، د Vermont د انجن لرونکو موټرو ډیپارټمنټ (Vermont Department of Motor Vehicles) سره په 802-828-2000 یا خپل قانوني استازي سره اړیکه ونیسئ.

### آیا زما د الکول یا د نورو مخدره توکو د مشورې له لارې درملنه د IDRP زده کړې ځای نیسي؟

- نه. تاسو ممکن د IDRP زده کړې *سربېره* د مشورې له لارې درملنې بشپړولو ته اړتیا ولرئ، مګر دا نشی کولی د زده کړې ځای ونیسي.

### آیا زما د جرم له امله د ځورېدلي څخه د اغیز اخیستلو غونډه د IDRP ځای نیسي؟

- نه. محکمه ممکن تاسو اړ کړي چې د جرم له امله د ځورېدلي څخه د اغیز اخیستلو غونډه کې برخه واخلئ، مګر دا د IDRP برخه نده.

### آیا زما د موټر خوندي چلولو پروګرام (Safe Driving Program) د IDRP بدیل کیدای شي؟

- نه. محکمه ممکن تاسو اړ کړي چې د موټر خوندي چلولو پروګرام (Safe Driving Program) کې برخه واخلئ مګر دا د IDRP برخه نه ده.

### آیا مخکې له دې چې زه د موټر چلوونکو د الکول څښلو وروسته د موټر پیل کولو مخه نیسونکې آله (ignition interlock device) ترلاسه کړای شم، IDRP ته اړتیا ده؟

- نه، مګر د تعلیق مخنیوي لپاره د ignition interlock device لرې کولو لپاره د IDRP بشپړولو ته اړتیا ده.

### آیا د IDRP لپاره د مخدره توکو معلوملو لپاره د تشو متیازو د سکرینینګ او د مخدره توکو نه د ځان ساتلو اړتیا شته؟

- تاسو ته ممکن ستاسو د IDRP کلینیکي ارزوونکي یا د معالج ډاکټر لخوا وویل شي چې د مخدره توکو معلوملو لپاره د تشو متیازو سکرینینګ چمتو کړئ یا د مخدره توکو نه د ځان ساتلو دورې کې برخه واخلئ.

### ما لا دمخه خپل لایسنس ترلاسه کړی، ولې زه اوس IDRP ته اړتیا لرم؟

- فدرالي حکومت مطالبه کوي چې ټول ایالتونه د موټر چلوونکو ملي راجستر کې برخه واخلي ترڅو د هغو خلکو بل ایالت کې جواز ترلاسه کولو څخه مخه ونیسي چې په یو ایالت کې تعلیق شوي. ځینې ایالتونو هم په دې وروستیو کې د دغې راجستر پلټنې پیل کړې دي.

## د IDRP پروسه

1. **نوم لیکنه -** [د Vermont کوم یو تصدیق شوی IDRP چمتو کوونکی](#) انتخاب کړئ او د نوم لیکني لپاره ورسره اړیکه ونیسئ.
2. **ارزونه -** د IDRP کلینیکي ارزوونکی به ستاسو د برنامې اړتیاوې ارزوي، او تاسو سره به ستاسو د درملني پر اړتیاو پوهېدو کې مرسته کوي.
3. **زده کړه -** تاسو به د 10 ساعتونو زده کړې کې برخه واخلئ (لیکچرونه، لوستل، ویډیوګانې او د کوچنی ډلې بحثونه). دا زده کړې په ټولو [Vermont چمتو کوونکو](#) کې ورته دي او په 2 غونډو ("متمرکز") یا په 4 غونډو ("غیر متمرکز") کې بشپړ کېدای شي.
4. **درملنه -** د IDRP کلینیکي ارزونکی به تاسو ته ستاسو د انفرادي درملني اړتیاو په اړه معلومات درکړي. د درملني ټول ساعتونه باید ستاسو د IDRP بشپړېدو د پروسې دمخه بشپړ شي، او باید د جواز لرونکي ډاکټر سره بشپړ شي.
5. **د وتلو مرکه -** *د IDRP کلینیکي ارزوونکی ممکن ستاسو د زده کړې او درملني اړتیاو بشپړولو وروسته د وتلو مرکې مطالبه وکړي.*

| | د IDRP تعلیم | درملنه |
|---|---|---|
| 1م (لومړی) جرم | تاسو کولی شئ متمرکز (په 2 غونډو کې 10 ساعته) یا غیر متمرکز (په 4 غونډو کې 10 ساعته) پروګرام انتخاب وکړئ | دا ممکن د IDRP کلینیکي ارزونکي لخوا اړین وي.<br>د اړتیا په صورت کې لږترلږه د 4 اونیو په اوږدو کې 4 د درملني ساعتونه. |
| 2م جرم | | لږترلږه د 24 اونیو په اوږدو کې 20 د درملني ساعتونه. |
| 3م جرم یا تري ډېر (د ټول عمر تعلیق) | د IDRP زده کړې ته اړتیا نشته | لږترلږه د 24 اونیو په اوږدو کې لږترلږه 20 د درملني ساعتونه، او ورسره[د DMV د مخدره توکو څخه په بشپړه توګه د ځان ساتلو برنامه.](#) |

پوښتني؟ له [IDRP مرکزی دفتر](#) سره اړیکه ونیسئ!

د جواز تعلیق یا جرم معلوماتو په اړه معلوماتو لپاره په 802-828-2000 شمېره [د Vermont موټرو څانګې (DMV)](#) سره اړیکه ونیسئ.

## د IDRP لګښت

- لازمي ارزونه 180$ ده.
- د اجباري زده کړې پروګرام 220$ دی. متمرکزې برنامې (کومې چې د دوه ورځو په اوږدو کې د IDRP زده کړې وړاندیز کوی) ممکن یو څه لوړ فیس ولري که دوی خواړه وړاندې کوي.

## د IDRP لپاره نوم لیکنه

- د [Vermont تایید شوی کوم یو هم IDRP چمتو کوونکی](#) انتخاب کړئ او د نوم لیکني لپاره له دوی سره اړیکه ونیسئ.

## د ټول عمر تعلیق

- که تاسو په Vermont کې ژوند کوئ او د ټول عمر تعلیق لرئ، نو تاسو به اړتیا ولرئ چې درملنه بشپړه کړئ (لږترلږه د 24 اونیو په اوږدو کې د درملنې 20 ساعتونه) **او** چې د DMV Total Abstinence غوښتنلیک پروسې له لارې د خپل جواز بحالولو لپاره غوښتنه وکړئ.
- د DMV Total Abstinence د IDRP سره ورته ندي. د DMV Total Abstinence په اړه د نورو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ د دوی ویب پاڼه وګورئ یا دوی سره په 2067-828 (802) اړیکه ونیسئ.

## مجازي پروګرامونه

- د Vermont تصویب شوی IDRP تعلیم په مجازي ډول وړاندې کیږي! دا یو په نبغ په نبغه بڼه ټولګی دی چې ټاکل شوي د پیل او پای وختونه لري. تاسو به د زده کړې برنامې کې د ګډون لپاره د ویب کیم او له انټرنیټ سره وصل شوي وسیلې ته اړتیا ولرئ.
- د نوم لیکنې لپاره د Vermont تصویب شوی کوم یو هم IDRP چمتو کوونکي سره اړیکه ونیسئ.

## اړینې فورمې

### ستاسو لخوا د بشپړلو لپاره

- مهرباني وکړئ دمحرم معلوماتو خپرولو فورمه بشپړه کړئ - دا فورمه د IDRP مرکزي دفتر ته اجازه ورکوي چې ستاسو د IDRP بشپړولو په اړه د DMV سره اړیکه ونیسي او دا د جواز بحالولو په لور یو مهم ګام دی.
  - که تاسو اړتیا لرئ چې خپل بشپړ شوی IDRP له Vermont څخه بهر د انجن لرونکو موټرو ډیپارټمنټ ته واستوئ، تاسو باید نوم او بشپړه پوستي پته یا د فکس شمېره شامله کړئ.

### ستاسو د درملنې کلینیکي کارکوونکي لخوا د بشپړولو لپاره

- ستاسو د درملنې کلینیکي کارکوونکی باید د IDRP مرکزی دفتر ته د درملنې د معلوماتو فورمه ډکه کړي او ولیږي (فکس # 1-866-272-7989)
- د مراجعینو لخوا وړاندې شوي د درملنې د معلوماتو فورمې نشي منل کیدی.

## د ایالت څخه بهر (غیر Vermont) اوسیدونکي

- که تاسو له ایالت څخه بهر ژوند کوئ او په Vermont کې د الکول یا مخدره توکو د اغیز لاندې موټر چلولو د جرم محکوم شئ ، نو تاسو باید د خپل ایالت لخوا تصویب شوې برنامه بشپړه کړئ او IDRP ته د بشپړېدو ثبوت چمتو کړئ. Vermont د State Driver License Interstate Compact 47 غړی دی، کوم چې د غیر اوسیدونکو د جواز تعلیق او ترافیکي سرغړونو په اړه د معلوماتو تبادلې ته اجازه ورکوي. دا پروسه پیچلې کیدی شی - د ایالت څخه بهر تصویب شوو برنامو په اړه د معلوماتو لپاره د IDRP مرکزي دفتر ته زنګ ووهئ.
- که تاسو له ایالت څخه بهر ژوند کوئ او په Vermont کې د الکول، مخدره توکو تر اغیز لاندې د موټر چلولو جرم کې محکوم شئ، نو تاسو کولی شئ د Vermont's IDRP انتخاب کړئ. په Vermont کې د IDRP لپاره د نوم لیکنې څخه مخکې، دا مهمه ده **چې تایید کړئ چې ستاسو ایالت به د Vermont برنامه ومنې**. ستاسو ایالت ممکن د جواز بحالولو لپاره اضافي اړتیاوې ولري.

# موږ سره اړیکه ونیسئ

**د الکول، مخدره توکو تر اغیز لاندې د موټر چلوونکو د بیارغونې پروګرام مرکزی دفتر**
د روغتیا ډیپارتمنټ، د موادو کارولو برنامې څانګه (Department of Health, Division of Substance Use Programs)
108 Cherry Street
Burlington, VT 05401

**ټلیفون:** 802-651-1574
موږ ممکن په ټلیفون د نورو پیرودونکو سره مرسته کوو کله چې تاسو زنګ ووهئ. مهرباني وکړئ خپل نوم، د ټلیفون شمېره او تاسو سره د اړیکې نیولو مناسب وخت په ګوته کړئ. د پیغامونو ځوابونه به ژر تر ژره درکړل شي - معمولا په دوه کاری ورځو کې.

**بریښنلیک:** AHS.VDHIDRP@vermont.gov
تاسو کولی شئ موږ سره د بریښنالیک له لارې هم اړیکه ونیسئ - مهرباني وکړئ خبر اوسئ چې د IDRP مرکزي دفتر نشي کولی د بریښنالیک له لارې لیږل شوي معلوماتو امنیت تضمین کړي.

**فکس:** 1-866-272-7989

# Imparied Driver Rehabilitation Program
# Frequently Asked Questions and Answers

**May 2023**

This manual reviews information about Vermont's Impaired Driver Rehabilitation Program (IDRP) including frequently asked questions, the IDRP process, and program requirements. If you are convicted of driving under the influence of alcohol or drugs in Vermont, you must complete IDRP to reinstate your unrestricted driver's license.

## Contents


**Frequently Asked Questions .................... 2**

- How do I schedule my exit interview? .................... 2
- Can I start treatment before I complete IDRP education? .................... 2
- Can I start IDRP before I go to court? .................... 2
- Do I need to complete IDRP if my charges are dropped? .................... 2
- Can my alcohol or other drug counseling replace IDRP education? .................... 2
- Can my victim's impact panel replace IDRP? .................... 2
- Can my Safe Driving Program replace IDRP? .................... 2
- Is IDRP required before I can get an ignition interlock device? .................... 2
- Are urine drug screenings and abstinence required for IDRP? .................... 2
- I have been able to get my license before, why do I have to do IDRP now? .................... 2

**The IDRP process .................... 3**

IDRP Cost .................... 3

Registering for IDRP .................... 3

Lifetime suspensions .................... 4

Virtual programming .................... 4

Important forms .................... 4

- For you to complete .................... 4
- For your treatment clinician to complete .................... 4

Out of State (Non-Vermont) Residents .................... 4

**Contact Us .................... 5**

## Frequently Asked Questions

### How do I schedule my exit interview?

- Contact your IDRP Clinical Evaluator to schedule an exit interview after you have completed all education and treatment requirements.

### Can I start treatment before I complete IDRP education?

- Yes! You can start treatment at any time after the offense has occurred.

### Can I start IDRP before I go to court?

- Yes! You can start the program at any time after the offense has occurred.

### Do I need to complete IDRP if my charges are dropped?

- You may still need to complete IDRP if your charges have been reduced or dropped. Contact the Vermont Department of Motor Vehicles at 802-828-2000 or your legal representation if you have questions about your charges.

### Can my alcohol or other drug counseling replace IDRP education?

- No. You may be required to complete counseling *in addition to* IDRP education, but it cannot replace it.

### Can my victim's impact panel replace IDRP?

- No. The court may require you to attend a victim's impact panel, but it is not part of IDRP.

### Can my Safe Driving Program replace IDRP?

- No. The court may require you to take a Safe Driving Program but is it not part of IDRP.

### Is IDRP required before I can get an ignition interlock device?

- No, but IDRP completion is required to remove the ignition interlock device to avoid suspension.

### Are urine drug screenings and abstinence required for IDRP?

- You may be asked to submit urine drug screens or engage in a period of abstinence by the IDRP Clinical Evaluator or the treatment clinician.

### I have been able to get my license before, why do I have to do IDRP now?

- The federal government requires that all states participate in the National Driver Register to prevent people who have a suspended license in one state from getting license in another state. Some states only recently began checking the register.

## The IDRP process

1. **Registration** – Choose any approved Vermont IDRP provider and contact them to register.
2. **Evaluation** – An IDRP Clinical Evaluator will evaluate your program requirements, and help you understand what your treatment requirements are.
3. **Education** – You will participate in 10 hours of education (lectures, reading, videos and small group discussions). This education is the same across all Vermont providers and can be completed in 2 sessions (“intensive”) or over 4 sessions (“non-intensive”).
4. **Treatment** – The IDRP Clinical Evaluator will give you information on your individual treatment requirements. All treatment hours need to be completed before your IDRP completion is processed, and must be completed with a licensed clinician.
5. **Exit Interview** - The IDRP Clinical Evaluator may require an exit interview after you complete your education and treatment requirements.

| | IDRP Education | Treatment |
|---|---|---|
| 1st Offense | You may take either the intensive (10 hours in 2 sessions) or non-intensive (10 hours over 4 sessions) program | *May* be required by the IDRP Clinical Evaluator.<br>Minimum of 4 treatment hours over a minimum of 4 weeks, if required. |
| 2nd Offense | | Minimum of 20 treatment hours over a minimum of 24 weeks. |
| 3rd Offense or more (Lifetime Suspension) | IDRP education not required | Minimum of 20 treatment hours over a minimum of 24 weeks, plus DMV Total Abstinence Program. |

Questions? Contact the IDRP Central Office!

Contact the Vermont Department of Motor Vehicles (DMV) at 802-828-2000 for information about license suspensions or offense information.

## IDRP Cost

- The mandatory evaluation is $180.
- The mandatory education program is $220. The intensive programs (who offer IDRP education over two days) may have slightly higher fees if they offer meals.

## Registering for IDRP

- Choose any approved Vermont IDRP provider and contact them to register.

## Lifetime suspensions

- If you live in Vermont and have a lifetime suspension, you will need to complete treatment (a minimum of 20 treatment hours over a minimum of 24 weeks) **and** apply for reinstatement of your license through the DMV Total Abstinence Application process.
- DMV Total Abstinence is not the same as IDRP. For more information about DMV Total Abstinence, please visit their website or them at (802) 828-2067.

## Virtual programming

- Vermont's approved IDRP education is offered virtually! It is a live class with scheduled start and end times. You will need access to an internet connected device with a webcam to participate in the education programming.
- Contact any approved Vermont IDRP provider to register.

## Important forms

### For you to complete

- Please complete the Release of Confidential Information Form – this form allows IDRP Central Office to communicate your IDRP completion with the DMV and is an important step towards license reinstatement.
  - If you need your IDRP completion sent to a Department of Motor Vehicles outside of Vermont, you must include the name and complete mailing address or fax number.

### For your treatment clinician to complete

- Your treatment clinician must complete and send the Treatment Information Form to the IDRP Central Office (Fax #: 1-866-272-7989)
- Treatment Information Forms submitted by clients cannot be accepted.

## Out of State (Non-Vermont) Residents

- If you live out-of-state and receive an impaired driving offense in Vermont, you should complete your state's approved program and provide proof of completion to IDRP. Vermont is a member of the 47 State Driver License Interstate Compact, which allows the exchange of information concerning license suspensions and traffic violations of non-residents. This process can be complicated—feel free to call the IDRP Central Office for information about approved out of state programs.
- If you live out-of-state and receive an impaired driving offense in Vermont, you may choose to take Vermont's IDRP. Before registering for IDRP in Vermont, it is important to **verify that your state will accept Vermont's program**. Your state may have additional requirements for license reinstatement.

## Contact Us

**Impaired Driver Rehabilitation Program (IDRP) Central Office**
Department of Health, Division of Substance Use Programs
108 Cherry Street
Burlington, VT 05401

**Phone**: 802-651-1574
We may be on the phone assisting other clients when you call. Please leave your name, your phone number, and a good time to reach you. Messages will be returned as soon as possible – usually within two business days.

**Email**: AHS.VDHIDRP@vermont.gov
You can also reach us by email – please be aware that IDRP Central Office cannot guarantee the security of information sent by email.

**Fax**: 1-866-272-7989